## ما هو الهدف من الحياة؟ (قصة ملحد) د ژوند هدف څه دی؟

زما کیسه زما د پوهنتون له لومړي کال څخه پیل کیږي. په ما باندې سر کال له ډېرو ستونزو سره تېر شو .

هغه داسې چې زما مور او پلار له یو بل سره جدا شول، او ماته ترافیکي پېښه وشوه ، او زما یو ملګری مړ شو.

ما له ځانه وپوښتل چې ولې زه دلته یم؟ او د ژوند هدف څه دی؟

او د ژوند په هدف کې مې شک پیل کړ، دا چې زه عیسوی یم، ما پلټنه پیل کړه .

نو زه د کلیسا کمپ ته لاړم او هرڅوک مې ولیدل چې داسې کلمې یې ویلې چې زه پرې نه پوهیدم.
نو ما له هغوی څخه ځینې پوښتنې وکړې چې زه یې ځورولم .

دوی انجیل ونه پرانیست چې ځواب یې راته ویلی وی.
بلکې هر یو تن راته خپل شخصي نظر راکړ.

ځوابونه له یو بل سره توپیر درلود، او ځینې وختونه به د یو کس نظر د بل کس نظر سره مخالف وه .
تر چې د خدای په اړه د دوی تصورات عاجزه او یو بل سره متضاد او قانع کوونکي نه وو.

څنګه یو خدای په صلیب ځړول کیږي او هغه ته زیان رسیږي؟
نو زه پوه شوم چې په عیسویت کې هم ډېر تاویلات شته دی.

کله چې زه په پوهنتون کې وم ما د ګازو په یوه پمپ کې کار کاوه. زما یو همکار یو هندی هندو وو. نو ما ترې وپوښتل چې د هندوانو د خدای کیسه څه ده چې د فیل سر لري؟ آیا دا ممکنه نه وه چې د مثال په توګه، د زمري سر لرونکی خدای غوره کړئ؟ !
نو زما هندویزم خوش نه شو .

او ما د نورو دینونو په اړه څېړنې ته دوام ورکړ. دا ځل زما پوښتنه د یهودي مذهب په اړه وه. له ډېرې څېړنې وروسته، ما د خدای په اړه د دوی تصور هم متضاد وموند. لکه په عیسویت کې د پادریانو تناقض غوندې .

نو ما په یهودیت کې هغه څه ونه موندل چې زه یې په لټه کې وم.

بالاخره ما بودیزم دین پلټنه وکړه .او فکر مې وکړ چې همدا به غوره کړم ، کله چې ما په دې څېړنه کې ژوره کتنه وکړه، نو ما وموندله چې دا دین نه و، بلکې د ژوند کولو لپاره یوه ژره رانښکونکې لاره.

یوه ورځ، زما یو ملګري له ما څخه د هغو مذهبونو په اړه وپوښتل چې ما یې څېړنه کړې وه ، ما ورته وویل چې ما د عیسویت، هندویزم، یهودیت او بودیزم په اړه څېړنه کړې ده. هغه راته وویل: د اسلام په اړه دې څه څېړنه وکړه؟
ما وویل چې زه به د دوی د اسلام په اړه پلټنه ونه کړم ، څه شی ما د دوی مذهب ته هڅوي؟
خو څه موده وروسته جومات ته ننوتم پرته له دې چې بوټان مې وباسم ، او د لمانځه له فرش څخه تېر شوم.
ما تقریبا د یو عبادت کوونکي په سر پښه کیښوده .
بیا ما وکتل او یو شیخ مې وموند چې زما په لور روان و، موسکا یې کوله .
ښه ورځ ولرې زما ملګریه. څنګه یې ؟

د شیخ له دې ډول هرکلي وروسته ما ترې وپوښتل: زه خپلې پوښتنې لرم چې ما مخکې کړې وې ، هغه څه چې زه یې تر ټولو ډېر حیران کړم هغه دا وو چې کله به ما له دوی څخه پوښتنه کوله نو دوی به سمدلاسه ځواب رانکړ ، دوی به قرآن کریم نیولی و ، او راته به یې ویل، "وروره دا ځای ولوله."
هلته به ما ځواب موندو ، که ځومره به سخته پوښتنه وه ،
دوه اونۍ وروسته ما له یوه مسلمان څخه پوښتنه وکړه ، ولې ته خپل شخصي نظر نه راکوې؟
هغه راته وویل: کله چې مور د الله تعالی د کلام په اړه خبرې کوو، زه نشم کولی خپل ځانګړی نظر ولرم، او دې کار زه ډېر اغیزمن کړم

بیا مې د قرآن کریم یوه نسخه کور ته یوړه او لوستل مې پیل کړل.
ما وموندله چې دا د کیسې لوستلو په خیر نه وه بلکې زه یو څه لوستلم چې ما ته یې حکم او لاربښوونه کوله.

یوه شپه زه کیناستم او د هغو حقایقو دلیلونو په اړه مې فکر کاوه لکه غرونه چې میخونه دي ، یا د مور په رحم کې د جنین وده کول ، او ومې ویل: یا الله ما ته هدایت وکړه ،
زما حالت په بشپړه توګه بدل شو ، ما احساس وکړ چې الله تعالی ماته لاربښوونه وکړه څکه چې دا کاینات د شکلا او عالي ترکیب سره د خالق پرته نشي رامینځته کیدی.
نو ما پریکړه وکړه چې مسلمان شم او د شهادت کلمه ووایم.
وروسته له هغه چې ما دا وویل، ټوله ویره او شک زما له ذهن څخه ووالته.
او ما د پلار سره زما د مهربانۍ چلند هغه دا درک کړه چې د اسلام په اړه حقیقت د هغو دروغو څخه توپیر لري چې په اړه یې خپریږي.
نو هغه له ما څخه د قرآن کریم غوښتنه وکړه
زه مطمین یم چې هغه به ډېر ژر د اسلام اعلان وکړي، ان شاء الله.